

د پوهنې وزارت سره څه باندې ۶،۴ میلیون ډالرو په ارزښت هوکړه لیک لاسلیک شو

۴ مخ

هفته نامه
# معارف
اوونیزه
۱۳۹۷ له معارفه د ملاتړ کال

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه

سال تاسیس ۱۳۸۱ شماره مسلسل ۲۲۹ ماه حمل سال ۱۳۹۷



بازدید از لیسه سیدجمال الدین افغان، شهر دهلی کشور هندوستان

ص۲

سرمقاله:

## پیشرفت نظام آموزشی کشور به زحمات استادان و والدین گرامی بستگی دارد

پیشرفت وترقی معارف به کاروزحمات خسته گی ناپذیرکاروانیان معارف واولیای محترم شاگردان بستگی دارد.

سال جدید تعلیمی با نواختن زنگ مکتب توسط رئیس جمهوری کشور جلالتماب محمد اشرف غنی آغاز گردید که همزمان با آن سال تعلیمی جدید بنام (سرمایه گزاری در معارف، سرمایه گزاری برآینده کشوراست) نامگذاری گردید.

این بدین معنی است که دولت جمهوری اسلامی افغانستان ورهبری وزارت معارف جهت ختم چالش ها و مشکلات سد راه پیشرفت معارف توجه جدی داشته کوشش می کنند که معارف کشور را به مدارج عالی، ترقی و پیشرفت رهنمون سازند استادان و شاگردان با استفاده ازتجارب مثبت ومنفی که ازسال گذشته دارند سال جدید را یک سال پرکار درعرصهٔ آموختن وآموختاندن برای خویش قلمداد کنند تا باشد معارف ما پله های ترقی و پیشرفت خویش را به کامیابی به پیماید ...

(ص۲)

# جمهوررئیس محمداشرف غني د پکتیا ولایت له استادانو سره وکتل

د افغانستان د اسلامي جمهوریت جمهوررئیس محمداشرف غني



پکتیا ولایت ته د خپل سفر په اوږدو کې د دغه ولایت د پوهنتون له یو شمېر استادانو او د ښوونځیو له ښوونکو سره وکتل.

په دغه کتنه کې د عبدالحی ګردیزي لیسې استاد د نورو ښوونکو په استازیتوب خبري وکړې وې ویل: په ۱۳۹۶کال کې یې د معارف په برخه کې ښې لاسته راوړنې درلودې، ۶۰۰ښوونکي د آزاد رقابت له لارې ښوونځیو ته جذب شول چې ۲۰۰تنه یې ښځې دي.

هغه زیاته کړه، د ښوونکو لپاره روزنیز کورسونه جوړ او یو شمېر ښوونځي ترمیم ...

(۲مخ)

## دیدار سرپرست وزارت معارف کشور با سفیر سویدن

محترم دکتر محمد میرویس بلخی سرپرست وزارت معارف افغانستان در دفتر کارش با آقای تابیاس تایلبرگ سفیر کشور سویدن دیدار و گفتگو



نمود. سفیر سویدن در این دیدار بر ادامه همکاری های کشورش به افغانستان تاکید کرد و کمک به معارف افغانستان را از اولویت های کشورش عنوان کرد. او گفت آموزش بخش اساسی ارزش های حقوق بشری، صلح و توسعه اقتصادی در افغانستان است.

او گفت از سال ۲۰۰۱ به این سو در معارف افغانستان پیشرفت هایی چون افزایش مکاتب و شاگردان صورت گرفته است، اما چالش هایی نیز در معارف افغانستان وجود دارند که باید از سر راه معارف برداشته شوند.

او همچنان گفت که آموزش دختران که کیفیت آن وابسته به شفافیت پروسه استخدام و استخدام استادان زن است و همچنان آموزش در شرایط اضطراری از برنامه های دراز مدت سویدن برای افغانستان است.

سفیر سویدن افزود، که به دلیل قرار داشتن افغانستان در شرایط پسا منازعه و جنگ، آن ها روی چگونگی برنامه ریزی روی آموزش در شرایط اضطرار توجه دارند...

ص۲)

## د ګلخانې لیسې نوي جوړ شوي ټولګي ګټې اخیستنې ته وسپارل شول

د پوهنې د سرپرست وزیر ډاکټر محمد میرویس بلخي او یو شمېر نورو چارواکو لخوا د کابل ښار د شپږمې ناحیې اړوند د ګلخانې لیسې نوي جوړ شوي درسي ټولګي د یو لړ مراسمو په ترخ کې پرانېستل شول.

دغه ښوونځي ته د IAWA موسسې له لوري د ۹۲ زره امریکایي ډالرو په ارزښت دویم پوړ جوړ شوی، چې ۸ درسي ټولګي، ۳ اداري خونې، د زده کوونکو لپاره ۱۶۰ پایې مېز او څوکۍ او نورې اړینې اسانتیاوې لري. ددې ترڅنګ د یاد ښوونځي پخواني درسي ټولګي هم ترمیم او بیارغول شوي دي.

د پوهنې سرپرست وزیر په دې اړه جوړو شویو مراسمو کې وویل: د خوښۍ ځای دی، چې له کاري دفتر د باندې لومړنی فعالیت مې د یو ښوونځي د نوې ودانۍ پرانېستل دي کوم چې د معارف د ودې او پراختیا نښه ګڼل کیږي...

(۲مخ)

## ننګرهار کې نویو ګمارل شویو ښوونکو ته روزنیز ورکشاپ جوړ شو

د ننګرهار ولایت په مرکز جلال آباد ښار کې د ودان موسسې له لوري ۱۵۰ تنو نویو ګمارل شویو ښوونکو ته شپږ ورځنی روزنیز ورکشاپ جوړ شو .

دغه ښوونکي د ودان موسسې له لوري د یاد ولایت د شپږو ولسوالیو لپاره ګمارل شوي، چې له ډلې یې ۱۱۰ تنه مېرمنې دي.

ددې روزنیز ورکشاپ په ترخ کې به ښوونکو ته د بېلابېلو ښوونیزو مسایلو په اړه روزنه ورکړل شي. د ننګرهار سرپرست مرستیال والي او مستوفي عبدالله رقیبي د ورکشاپ په پرانېسته کې د ودان موسسې له اداري مننه وکړه او هیله یې وښوده، چې په روان کال کې به چې له پوهنې د ملاتړ کال نومولی شوی د ننګرهار په معارف کې مثبت بدلونونه ووینو.

دغه راز د ننګرهار د پوهنې رییس حسیب الله شینواري د ښوونکو د دندې پر ارزښت خبرې وکړې او د ورکشاپ له ګډونوالو یې وغوښتل، چې زده کړې مسایل اوموضوعات په ښوونځیو کې د تدریس پرمهال عملي کړی.



افراد مسلح نا شناس قسمتی از لیسه دخترانه را درولایت لوگر آتش زدند

۲ مخ



تمامی مکاتب مسدود ولسوالی چرخ دوباره بازگشایی گردید

۲ مخ



بالامرغاب کې ترلي دوه بابه ښوونځي پرانېستل شول

۲ مخ

## افتتا ح تعمیر یک باب مکتب در ولایت بلخ

تعمیر جدید لیسه نسوان ناصر خسرو بلخی شهرک بندری ولایت بلخ با قطع نوار افتتاح وبه بهره برداری سپرده شد.

تعمیر متذکره بصورت پخته و اساسی در یک طبقه به کمک مالی دفتر GIZ کشور المان به مصرف مجموعی ۲۰ میلیون افغانی در مدت یکسال اعمار گردیده، که دارای ۸ صنف درسی ، ۴ اتاق اداری، یک ساختمان ۵ اتاقه با تمام لوازم و تجهیزات عصری برای کودکستان، ۵ تشناب و سایر ملحقات ضروری می باشد، که با اعمار تعمیر متذکره مشکل شاگردان این مکتب متذکره از ناحیه نبود تعمیر مرفوع خواهد گردید.

قابل یاد اوری است که در لیسه نسوان ناصر خسرو بلخی شهرک حیرتان به تعداد ۲۸۰۰ تن شاگرد مصروف آموزش هستند.

شایان ذکر است که دفتر GIZ کشور المان به تعداد ۲۸۰ پایه میز وچوکی به لیسه ذکور ناصر خسرو بلخی شهرک حیرتان کمک نمودند.

ګل رحمان رحمان

## کوچیانی ژوند

زه له ازله یم پیدا همداسې
که کوچیانی ژوند د هر چا خوښیږي
ژر په تنګیږمه د ښار کوڅو کې
دا تور لوړ غرونه مې رښتیا خوښیږي
ډېر را ته ګران دي دا د غرو ځناور
شین شنیلی مې د صحرا خوښیږي
د کیمیا بوټي در ته څه ووایم
د کبر ګل مې ناز ادا خوښیږي
را ته دي ګرانې غرنۍ بلبلې
زما یې ښایسته سترګې شهلا خوښیږي
اې د همت او د غیرت سرداره
زما د سپوږمی ستورو رڼا خوښیږي
دنیا ده ستا په عظمت ودانه
قانون مې ستا په دې دنیا خوښیږي
زه ګل رحمن په کائیناتو مین
ښکلې هستي مې د مولا خوښیږي

## غوره ویناوې

درې شیان په آسانۍ له لاسه مه ورکوئ. دوست، وخت او ځواني.
درې کسان تل واجب الاحترام لره. مور، پلار او استاد.
درې شیان په خپله ګټه ولره. عقل، صبر او همت.
درې شیان تر لمر زیات وپیژنئ. الله تعالی، ځان او د بل حق.
درې شیان همیشه په یاد لرئ. مرګ، احسان او قرض.
درې شیان په احتیاط پورته کوئ. قلم، قدم او قسم.
درې شیان زیات خواږه وي. مال، اولاد او آزادي.
د دریو شیانو ساتنه کوئ. نفس، امانت او د بل عیب.

رالیږونکي: ولوله

## اعتماد بر نفس

تمام انسانها برای رسیدن به هدف مشخص زندگی شان را به بیش میبرند در یافت یک انسان بدون هدف در کلیه جوامع انسانی نه تنها یک کار مشکل بل کار ناممکن است داشتن هدف در زندگی جهت نایل آمدن به کامیابی خاصه انسانهاست این ویژه گی انسانها زمانی رشد نموده و تحریک میشود که شخص موقف و رسالت اش را در اجتماع بیابد یگانه چیزی که برای رسیدن به هدف ما را کمک کرده میتواند همانا داشتن اعتماد به نفس است یعنی اینکه درزندگی نباید به کسی دیگری متکی باشیم و نباید از دیگران توقع یاری و مدد داشته باشیم جز الله (ج) که خالق توانا ومقتدراست البته این بدین معنی نیست که ما نصایح و رهنمود های بزرگان خاصتاً ازوالدین مان را مد نظر نه گیریم چون پدر و مادر اگر سواد هم نداشته باشند عملاً یک تجربه از زندگی پارین خود دارند یا نظر به معقوله عوام چند پیراهن بیشتر کهنه نموده اند.

طوریکه قبلاً یاد آور شدم تنها ذاتی که ما را کمک کرده میتواند الله (ج) است طبق حدیث پیامبر بزرگ اسلام حضرت محمد(ص) رضایت الله (ج) در رضایت والدین و غضب الله (ج) در نارضایتی والدین نهفته است.

بنا براین زمانی ما مساعدت الله(ج) رانصیب میگردیم که رضایت والدین را باخود داشته باشیم و والدین در واقع پل ارتباطی میان ما و معبود ما است و داشتن اعتماد بر نفس را باید به معنی جراات دادن به خود جهت انجام اعماَل انسانی و اسلامی استعمال نماییم نه به تعبیرات هیچ و پوچ که داریم.

زندگی انسان توام به مشکلات و نا بسامانی هاست زمانیکه در یک راه قدم میگذارد ممکن معضلات و موانع زیاد صد راه وی قرار گیرد برخی از اشخاصی که اعتماد بر نفس ندارند وقتی به یک مشکل دچار میشوند از هدف و راهی که در آن روان اند انصراف میکنند که این کار معقول نیست جهت رسیدن به هدف مان باید صبر و شکیبایی و اراده مستحکم داشته باشیم و در راستای رسیدن به هدف ازهیچ گونه سعی و تلاش دریغ نه ورزیم تا باشد در زندگی موفق باشیم.

ارسالی: ساره عثمانی متعلم صنف دهم لیسه سردار کابلی

## د انسان د حافظې سپړونکی کمپیوټر جوړ شو

د بریتانیا ساینس پوهانو یو داسې ډول کمپیوټر جوړ کړی چې کولای شي د انسانانو حافظه ولولي او هغه څه چې د یو انسان له حافظې وتلي وي بیرته نوموړي شخص ته ور په یاد کړي .

دغه نوی کمپیوټر اوس هغه خیالونه په واقعیت بدلوي چې یو انسان به وکولای شي له خپل فکر څخه وتلي خبرې بیرته ور په یاد کړي.

د بریټانیا ساینس پوهانو ویلي چې دغه ډول کمپیوټر بې معمولی کمپیوټرونو ته تر انکشاف ورکولو وروسته رامنځ ته کړی دی.

دغه نوی کمپیوتر به دا وړتیا هم ولری چې د انسان د ګوتې په څیر چې د کتاب پاڼې په یوه خاصه موضوع پسې لټوي، د یو کس ماغزه ولټوې او ترینه له یاده وتلي یاداشتونه را ژوندي کړي.

رالیږونکي: دنیا

## غزل

زه روان دهغه ټکي په تکل کې
چې ابد لري په لپه د ازل کې
هر یقین راته د شک په نظر ګوري
ورکه لاره لټومه په ځنګل کې
یو حسرت یې راله ستا د مینې راکړو
بل قدم یې راله کم کړلو مزل کې
هر نظر به دې د نور مراقبه شي
که ډیوه دې کړه روښانه په غزل کې
که رڼا یې راله راکړله سعوده
زه به سترګې ورله ورکړم په بدل کې

رالیږونکې: رساله

## د وطن محبت

د وطن په محبت باندې قسم خورم
چې د ځان له غمه زیات د وطن غم خورم
د وطن د شرف سپر یم نه وېرېږم
که د تورو ګوزارونه دم په دم خورم
دا خوږې، غوږې ګولې دې وي د نورو
د وطن د فاع کې زه ګولی د بم خورم
کفن نه غواړم د ژوند جامو کې درومم
د جنت باغ کې مېوې رقم رقم خورم
د وطن د اعتلا تږی یم ځکه
لکه ګل هره شپه ځاځکی د شبنم خورم
زه هغه یم چې تل ننګ په وطن خورمه
هغه نه یم چې رشوت سود او سلم خورم
چې په سر مې د وطن خدمت منلی
څه پروا ده که خپل سر لکه قلم خورم

رالیږونکی: ګ.ر

## خط در طول هزاران سال

خط نیز مانند هر پدیده دیگر اجتماعی مشمول قانون تکامل بوده و اندک اندک در طول زمانهای مختلف از صورتهای بسیار ابتدایی تغییر شکل داده تا بصورت امروز در آمده است.

بدیهی است که تمام ملل جهان در پیدایش و ایجاد خط سهیم نبوده اند بلکه خطوط مختلف نخست از سوی برخی اقوام اختراع شده و سپس بوسیله ملل دیگر اقتباس گردیده و پس از دیگر گونی به سوی کمال رفته است.

به عقیده متخصصین فن خط از آغاز پیدایش تا اکنون درجات و مراحلی را در راه تکامل پیموده که آن مراحل را اینگونه تقسیم بندی کرده اند.

مرحله اول: آن که هزاران سال را در برگرفت مرحله علامت گذاری است درین زمان بشر برای نمایش فکر و اندیشه خود از اشیا به عنوان علامت خاص استفاده میکرد مانند: پرتاب نیزه بطرف قبیله دیگر به عنوان اعلان جنگ تلقی میشد... .

مرحله دوم: مرحله خط تصویری است که بشر برای اظهار اندیشه و بیان فکر خود از تصاویر استفاده میکردند و جانب مقابل را اگاه می ساخت، مثلاً برای دعوت به شکار تصویر یک حیوان را که مورد هدف تیر قرار گرفته رسم میکرد.

بعد از گذشت زمان تصاویر جای خود را به علامات و نقش ها واگذار نموده که این روند آهسته آهسته تکامل نموده که بعداً برای هر صدا علامت مخصوص را بوجود آورده است مصری ها و سومری ها ازین نوع خط استفاده میکردند هزاران سال گذشت تا بشر خط الفبای امروزی را ایجاد کردند که امروز با گذاشتن چند حرف پهلوی همدیگر مفهوم و اندیشه شخص متقابل را درک نموده و به میلیون ها کتب که فکر و اندیشه گذشته گان بشر را نمودار است بدست داریم.

خط امروزی پشتو و دری که از خط عربی اقتباس گردیده خط الفبای بوده و اکثر خطوط اروپایی نیز الفبای میباشد.

عدهٔ دانشمندان معتقد اند که نخست خط را فنیقیها از مصری ها گرفته و برخی بر آنند که آنرا از عبری ها اقتباس نموده اند به هر حاَل منشأ خط از فینقی ها است و نبطی ها و آرامیهای آنرا از فینقی ها گرفته، دیگر گون ساخته و اشکال مختلف را بمیان آورده است بعد از خط آرامی خطوط دیگر ایجاد گردیده که در آسیا و افریقا متداول گشته است خط چینی منشأ دیگر دارد و خطوط، ژاپنی و کره یی و سیامی از خط چینی اقتباس شده است. خط امروزی ما دارای مشکلات فراوان است که امید است روزی بطور کامل از بین برود و نظام واحد نوشتاری داشته باشیم.

رحمان

Weekly Marif Newspaper



Established 2002, Issue No 229, Month March - April 2018

Ministry of Education Cultural and Social Issue

د لومړي مخ پاتې

## د پوهنې وزارت سره ...

د افغانستان د پوهنې وزارت د څه باندې ۶،۴ میلیون ډالرو په ارزښت له یو شمېر انجیوګانو سره د پوهنې په برخه کې ۱۶ بېلابېل مهم هوکړه لیکونه لاسلیک کړل .ددغو هوکړه لیکونو له مخې به د هېواد په بېلابېلو برخو کې د محلي زده کړو، سواد زده کړو او د ماشومانو لپاره د ښوونځي د چمتوالي ټولګي جوړ شي. دغه راز د پوهنې او روغتیاساتنې په اړه عامه پوهاوی، د ښوونځیو لپاره د نویو ودانیو جوړول او د ښوونځیو نظارت او ارزونه د یادو هوکړو نورې مهمې برخې جوړوي .د پوهنې وزارت سرپرست ډاکټر محمد میرویس بلخي د یادو تړونونو د لاسلیک پر مهال وویل:« د خوښۍ ځای دی، چې ۱۳۹۷ کال له پوهنې د ملاتړ کال نومول شوی او موږ ژمن یو، چې د معارف د ودې او پیاوړتیا لپاره مؤثر او ګټور ګامونه اوچت کړو.ښاغلي بلخي د یادو ۱۶ هوکړه لیکونو په اړه، چې له بېلابېلو موسسو سره لاسلیک شول وویل، موږ نه یوازې له همکارو موسسو سره د بشپړ شفافیت په ترخ کې د پروژو په پلي کېدو کې مرسته او همکاري کوو، بلکې د تطبیق له پروسې څخه یې هم نظارت او ارزونه کوو .نوموړي هوکړه لیک د پوهنې وزارت او د ژغورنې نړیوالې کمېټې ترمنځ لاسلیک شو. ددې هوکړې پر بنسټ به یاده موسسه د ۱۶ زره نجونو او هلکانو لپاره د سیمه ییزو زده کړو ۴۰۰ ټولګي جوړ کړي. دغه ټولګي په کابل، ننګرهار، لغمان، لوګر، پکتیا او هلمند ولایتونو کې جوړېږي، چې څه باندې ۸،۱ میلیون امریکایي ډالره لګښت پرې راځي - . دویم هوکړه لیک، چې د پوهنې وزارت او د ماشومانو د ملاتړ اداري ترمنځ لاسلیك شو له مخې به یې د کندز او تخار ولایت نژدې ۱۱ زره زده کوونکو ته ۲۶۰ بابه سیمه ییزو زده کړو ټولګي جوړ شي. دغه تړون د څه باندې یو میلیون امریکایي ډالرو په ارزښت د یو کال په ترخ کې عملي کیږي -.دریم هوکړه لیک د سویډن کمېټې او پوهنې وزارت ترمنځ د متقابلې همکارۍ او په افغانستان کې د سویډن د ښوونیزو فعالیتونو د پراختیا په موخه لاسلیك شو - .څلورم هوکړه لیك د پوهنې وزارت او اکټېډ موسسې ترمنځ په کندز ولایت کې یوه ښوونځي ته د نوې ودانۍ د جوړولو په موخه لاسلیك شو. د تړون له مخې به یاده موسسه د کندز په امام صاحب ولسوالۍ کې یو ښوونځي ته د روان ۲۰۱۸ کال تر پایه نوې ودانۍ جوړه کړي، چې ۸ درسي ټولګي، دوه اداري خونې، کمپیوټر لب، لابراتوار، تشنابونه، د زده کوونکو لپاره مېز او څوکۍ او نورې ټولې اسانتیاوې ولري. پر دغې ودانۍ نږدې ۲۷۲ زره امریکایي ډالره لګښت راځي. پنځم هوکړه لیک د پوهنې وزارت او آشیانې موسسې ترمنځ د بې وزلو ماشومانو او کورنیو بې ځایه شویو زده کوونکو لپاره په کابل، بلخ او پکتیا کې د ښوونځي د چمتوالي او خیاطۍ او نجارۍ حرفوي ټولګیو د جوړولو په موخه لاسلیك شو. د شوي تړون پر بنسټ به یاده موسسه د سړک پر سر کارګرو او کورنیو بې ځایه شویو نژدې ۱۰۰۰ تنه ماشومانو ته د ښوونځي د چمتوالي، ۱۰۰ تنه زده کوونکو ته د کمپیوټر او ۱۵۰ تنه بې وزلو ښځو ته د حرفوي زده کړو ټولګي جوړ کړي. یاد تړون د یو کال په ترخ کې د نژدې ۱۲۷ زره امریکایي ډالرو په ارزښت عملي کېږي. - شپږم هوکړه لیک د پوهنې د اهمیت په اړه د عامه پوهاوید کمپاین ترسره کولو په موخه د پوهنې وزارت او د افغانستان د اساسي حقونو د څار بنسټ ترمنځ لاسلیك شو. ددې هوکړې پر اساس به یاد بنسټ د هرات ولایت په ۲۰۳ بابه ښوونځیو کې د فیسټیوالونو د جوړولو او دغه راز د رسنیو له لارې د پوهنې په اړه د عامه پوهاوي کمپاین وکړي. دغه کمپاین د شپږو میاشتو په ترخ کې د ۱۸۴ زره امریکایي ډالرو په ارزښت ترسره کېږي. -اووم هوکړه لیك د پوهنې وزارت او د افغانستان د بیارغونې او ټولنیزو خدمتونو موسسې ترمنځ په لغمان او ننګرهار کې د پوهنې په اړه د عامه پوهاوي په موخه لاسلیك شو. یاد تړون د ۱۷۷ زره امریکایي ډالرو په ارزښت د شپږو میاشتو په ترخ کې عملي کېږي. -اتم هوکړه لیک د



نړیوال کنسرن موسسې او پوهنې وزارت ترمنځ د نږدې ۹۹ زره امریکایي ډالرو په ارزښت لاسلیك شو، چې له مخې به یې د تخار ولایت په نمک آب، رستاق او چاه آب ولسوالیو کې ۸۶۰ تنه زده کوونکو ته ۳۱ بابه د سیمه ییزو زده کړو ټولګي جوړ شي. دغه راز له یادې موسسې سره د ۵۳ زرو امریکایي ډالرو په ارزښت د یوه بل تړون پر اساس د تخار ولایت ۶۸۰ تنه مېرمنو ته ۳۲ بابه د سواد زده کړو ټولګي جوړېږي .
-لسم هوکړه لیک د پوهنې وزارت او ورلډویژن موسسې ترمنځ د ۳۲۵ زره امریکایي ډالرو په ارزښت لاسلیك شو، چې پر بنسټ به یې د هرات او بادغیس ولایتونو ۴۲۰ تنه ماشومانو ته د ښوونځي د چمتوالي ۱۴ بابه ټولګي جوړ شي. دغه راز به د شوې هوکړې پر اساس د یادو ماشومانو میندو ته هم د اولادونو د ښې روزنې په موخه روزنه او لازم مالومات ورکړل شي .
-یوولسم هوکړه لیک هم له ورلډویژن موسسې سره لاسلیك شو، چې له مخې به یې یاده موسسه د بادغیس ولایت په مقر، آبکمري، قادس او قلعه نو ولسوالیو کې ۲۳ بابه ښوونځیو ته د پاکو اوبو څاه ګانې جوړې کړي او دغه راز به د زده کوونکو ترمنځ د حفظ الصحې په اړه عامه پوهاوی وکړي. دغه تړون د نږدې ۹۰ زره امریکایي ډالرو په ارزښت د دریو کلونو په ترخ کې په یاد ولایت کې پلی کېږي. -دولسم هوکړه لیک د نږدې ۳۰ زره امریکایي ډالرو په ارزښت د پوهنې وزارت او افغان خدماتي موسسې ترمنځ لاسلیك شو. ددې هوکړې پر اساس به یاده موسسه د غزني ولایت د مرکز ۴۰۰ تنه نجونو او هلکانو زده کوونکو ته تقویتي، سواد زده کړو او کمپیوټر زده کړې ټولګي جوړ کړي. -دیارلسم هوکړه لیک د پوهنې وزارت او «نېکو ګاونډیتوب موسسه» ترمنځ د څه باندې ۶۸ زره امریکایي ډالرو په ارزښت لاسلیك شو، چې پر بنسټ به یې یاده موسسه د کابل ښار نږدې ۴۰۰ زده کوونکو ته د روغتیایي زده کړو او کمپیوټر او انګلیسي ژبې ټولګي جوړ کړي. -څوارلسم هوکړه لیک د پوهنې وزارت او د افغانستان د روڼتیا د څار بنسټ ترمنځ د نږدې ۳۲۰ زره امریکایي ډالرو په ارزښت لاسلیك شو، چې له مخې به یې یاده موسسه د دریو کلونو په ترخ کې په کابل، بامیان، بلخ، ننګرهار، پروان، کاپیسا او هرات ولایتونو په ۴۰۵ بابه ښوونځیو کې د امانتدارۍ فرهنګ د ترویج او د ښوونیز نصاب د پیاوړتیا په موخه ټولنیز نظارت وکړي.
-پنځلسم هوکړه لیک د پوهنې وزارت او «اطفال در معرض خطر» موسسې ترمنځ د ۵۵ زره امریکایي ډالرو په ارزښت لاسلیك شو، چې پر بنسټ به یې یاده موسسه د کابل ولایت په اصلاحي مرکز کې ۳۵۰ ماشومانو ته د زده کړو زمینه برابره کړي او دغه راز به د ماشومانو د اصلاحي مرکزونو لپاره تعلیمي ستراتیژي جوړه کړي.
-او شپاړسم هوکړه لیک د پوهنې وزارت او د جاپان د رضاکارانو موسسې ترمنځ د نږدې ۱۰۹ زره امریکایي ډالرو په ارزښت لاسلیك شو. د شوي تړون پر اساس به یاده موسسه په ننګرهار ولایت کې د دریو کلونو په ترخ کې ۹۰۰ کسانو ته د سواد زده کړو ۳۰ بابه ټولګي جوړ کړي او دغه راز به په ښوونځیو کې د نویو ماشومانو د شمولیت او روغتیا ساتنې په اړه عامه پوهاوی هم وکړي.

بقیه صفحه اول

## تمامی مکاتب مسدود...

مجموعاً به تعداد ۳۰ باب مکتب به شمول مکاتب پسرانه در ولایت لوگر که حدود ۱۱ روز پیش بنابه معاذیرامنیتی مسدود گردیده بودند، اینک دوباره باز گشایی و مورد بهره برداری قرارگرفتند.مکاتب مذکور شامل ده لیسه، ۸ باب متوسطه و ۱۲ باب ابتدایه می باشند که در آنها جمعاً به تعداد ۱۱۴۳۶تن شاگرد که ۲۲۶۲تن آنها را دختران تشکیل می دهند، مصروف آموزش می باشند. مکاتب مذکور به وساطت علمای دینی، شخصیت های با رسوخ و ذیدخل درقضیه و اولیای شاگردان دوباره فعال شدند. رهبری وزارت معارف از تلاش های علم پرورانه و معارف دوستانه علمای جید، شخصیت های متننفذ جنگ میخواهد که به حریم مقدس معارف ارج بگذارد و در فعال نگهداشتن مراکز تعلیمی با این وزارت



قومی و ذیدخل در موضوع ابراز قدردانی نموده مکتب ومدرسه را مهد و کانون آموختن علم و اساسات خداشناسی وتوحید پرستی می داند. وزارت معارف از طرف های درگیر همکاری صادقانه نمایند.شایان ذکر است که درولایت ۳۰۹ باب مرکز تعلیمی وتربیتی اعم از ذکور و اناث موجود بوده که همه آنها فعال می باشند.

مسوول مدیر: محمد نسیم "عیاذ"
کتنپلاوي: محمد کبیر حقمل- معراج زماني- استاد ګل رحمان رحمان عبدالصبور غفراني - محمد اکرم وفادار
خبریال: - محمد اشرف رسولي
کمپوز و ډیزاین بریالی رحمانزی
شمېر: ۵۰۰۰
دیجیتل: (۰۷۲۹۸۱۹۰۳۳)
ایمیل: marif.newspaper.moe@gmail.com
پته: دکابل ښار، محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت د اړیکو او عامه پوهاوي ریاست، د پوهنې اوونیزې مدیریت